دوکتور صلاح الدين سعيدي – سعيد افغاني ۲۰۱۱/۱۲/۰۹

# الأخضر ابراهيمي لاتراوسه هم په خپلو تیروتنو نه پوهيږي!

ښاغلی الأخضر ابراهیمی د ۱۹۳۴ز کال دجنوری دمیاشتي په لمړۍ نیټه په الجزایر کې زيږيدلی دی. نوموړي ډیر ستر نړیوال ديپلوماتیک وظایف لرل. دی په هایتی کې د ملل متحد دسازمان د سرمنشی د ځانګړي استازي په توګه (دسمبر ۱۹۹۳ز. ترجون ۱۹۹۶ ز)، په جنوبي افريقاى کې په (۱۹۹۴ ز)، په یمن، زایر، لیبریا، نیګیریا، لبنان، الجیریا، مصراو سودان کې وظایف اجراء کړي. نوموړی د ملل متحد د سازمان د سرمنشی دځانګړي استازي په توګه په افغانستان (۳ اکتوبر ۲۰۰۱ نه تر ۳۱ دیسمبر ۲۰۰۴ ز او د۱۹۹۷ ز کال د جولای دمیاشتی نه د۱۹۹۹ ز کال تر اکتوبر) کې وظایف اجرا کړي. د ښاغلي الأخضر ابراهيمی د راپور او بستیز رول سره د بُـن لمړی کنفرانس لس کاله مخکې د آلمان کې د افغانستان په هکله جوړ کړای شوو او دافغانستان په هکله يې مهم او په ډیرو مواردو کې داسي تصاميم ونيول چي د افغانستان او سیمي د خلکو د تراژيدي یو دسترو عواملو څخه شميرلای شو. هو دادي د افغانستان د خلکو د تراژیدی ډک مختلف پړاونه دداسي کنفرانسو د نامشروع پریکړو او يو سلسله نور عواملو تر تأثير لاندې، دوام لري.

د رواني میاشتي په پنځمه نیټه د دوشنبي په ورځ، دبُن ددومي غونډي په درشل کې (دیسمبر۲ – دیسمبر۵ کال ۲۰۱۱) ښاغلي الأخضر ابراهیمی سره د بي بي سي د پښتو څانګی خبریال ښاغلي داؤد جنبش د افغانستان په هکله د بُـن دلمړي غونډي د پریکړو او اجراأتو په هکله په یوه مرکه کړی چي په دې هکله مي وغوښتل چي ددي لیکل شوي مرکي په بعضی اړخو، افادو، او بعضي جملاتو اوټکو خپل لید لوری او ارزوني تاسي سره له تاسي سره ګډې او شریکي کړم:

ښاغلی داود جنبش دا مرکه د « د لخدار ابراهيمي سره مرکه » ترسرليک لاندې لوستونکو ته وړاندي کوي.

ښاغلی ابراهیمي د يو سوال د ځواب په هکله داسي ځواب ورکوي: «هغه مهال د پخلاینې فرصت له لاسه ووت چې اوس یې جبران هم افغانستان او هم نړیوالي ټولنې ته ډېر ګران دی.» . ښاغلی ابراهيمي د بُن په لمړي کنفرانس د طالبان سره د سولي امکان د نه موجوديت باندې ټينګار کوي. او وايي: «د دې کار امکان نه وو. ...شوني نه وه چې طالبان د بُن کنفرانس ته راشي. خو تر کنفرانس سملاسي وروسته د هماغه ډېسمبر په مياشت کې موږ افغانستان ته ستانه شو او باید هغوی مو لټولی وای چې څه شول؟ چېـرته ولاړل؟ او په مغزو کې يې څه ورګرځي؟». ښاغلی ابراهيمي ادامه ورکوي: «او که چـېرې د هغوی زړه کېدای، نو موږ باید ورته ځای ورکړی وای او دا هغه څه دي چې ونه شول. ما هـېڅکله هم دا نه دي ويلي چې د هغوی نه رابلل یوه تـېروتنه وه. ځکه له هغوی سره جګړه روانه وه او هـېڅ‌چا نه غوښتل چي غونډې ته راوبلل شي..... سربـېره پر دې هغوی هسې هم غونډې ته نه راتلل. کومه تـېروتـنه چي موږ کړي ده، هغه دا ده چي له ځانه سره مو دا سوچ ونه کړ چي ((هو))، هغوی پرزول شوي خو دي، خو تسلیم شوي چـېرې هم نه وو، هـېڅ‌چا ته. »

زما لید لوری او د ښاغلی الأخضر ابراهیمی تیروتـني:
کنفرانسونه، سمينارونه او حتی غير تعريف شوې جرګې دیو وطن او ټولني د کشالو، کړکیچونو او مطروحه مسايلو دحل لپاره د بحث، غور او لار لټولو ښه ممد او مرستندوی کیدای شي او باید وي. آما دا کنفرانسونه او غونډی هغه وخت په خپله د مشکل ايجادوونکي او پرابلم جوړونکي کيږي چي د خپل صلاحيت نه لوړ او غير مشروع تصاميم او پريکړي ولري اويا غير موجه مصارف پرې وشي.

د بُن لمړی کنفرانس دقيقا په همدې تصاميمو او پريکړو کې د افغانستان، سیمي او نړیوالي ټولني د تراژیدی د اوږدیدو عامل شو. په داسي غونډو او ناستو کې د کیدای شي د يو هیواد موجوده او مهموسیاسي ګوندونو او سیاسي حرکتونو استازي سره کښيني او د نړیوالي ټولني په مرسته مقدماتي او اولي تصاميم و نیسي او پریکړې وکړي چې د هغو په


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

مرسته ملت وکړای شي خپل مشروع حاکمیت او نظام داسي جوړکړي چي دهغوي له خوا منځ ته راشي او دهغوی د هغو ارزښتونو او مقاصدو په خدمت او پالنه کي وي چي هغوی يې ارزښت بولي او پالنه کول يې غواړي. هو کار ونه شو او د تیرو لسو کلو په لمړيو کي به روانچي، انتقام اخیستني تمرکز وه او د دیموکراسی او آزادی ترنامه لاندي دداسي ارزښتونو او معیارونو پیاده کولو باندي افغانستان کي تأکید او کار کيده اويو تعداد لا تر اوسه هم کار کوي چي زمونږ دټولني د ارزښتونو سره له سره برابر نه دي. هو دجرمني د بهرنيو چارو وزيرته لکه نارينه در نارينه سره واده د دوی دديموکراسی يو معيار او ارزښت به وي. خو دا کار زما د وطن دديني او اخلاقي ارزښتونه سره اقلا يو خلاف کار دی.
هو که چیری داسي کنفرانسونه ملت عملاً له سیاسي صحنی ایستل او حاشیي ته کاږل سبب شي، لکه څنګه چي در بُن په لمړي کنفرانس کي وشول، نو بيا غیر مشروع حاکمیت منځ ته راځي، هغه حاکمیت چي ملت يې د ځان نه بولي او داسي حاکمیت او د پردو په اوږو او پیسو واکداران د امورو د اجراء توان او قدرت هم نه لري.
هو د لمړي بـُن په کنفرانس کي که د طالب حرکت او یا کوم بل قوي افغانی سیاسي حرکت وجود لرلای او یا نه، خو پکار وه چي درخلکو دحاکمیت لپاره صادقانه کار شوای وای. داسي حاکمیت چي بیا ضرورت نه وای د هغه د ساتو او په پښتو درلو لپاره په ملیاردو پیسي او او دومره وينو تويدو ته اشد اړتیا وای.
درنو لوستونکو تاسی د ښاغلي ابراهيمي دي افادې ته په دقت پام وکړئ: «...او که چـېرې د هغوی – طالبانو - زړه کـېدای، نو موږ بايد ورته ځای ورکړی وای...» يعنی دا دوی او خارجي حلقات او مراجع دي چي چاته او کوم سیاسي ګوند او حرکت ته د يوي ټولني په حاکمیت کي ځای ورکوي او څوک له صحني ليرې کوي اويا د نابودی قصد او هڅي کوي.

د دي مرکي د افادو او نورو خبرو (زړه کيدای... ځای ورکړی وای ... ) څخه داسي معلوميږي چي ښاغلي ابراهيمي او د افغانستان اوسني حاکمان له سره دسیاسي مصالحي او سیاسي جوړي روغي په مانا نه دي پوه شوي. دسیاسي حرکت او سیاسي حزب او سازمان په اصلی مفهوم له سره نه دي پوه شوي. داسي افادې رسوي چي دوی خپل حاکمیت کي مخالف او يا اپوزيسيون ته دځای ورکولو په مانا او امتياز ورکولواو دغنايم په تقسيم او دسولي دراوستو لپاره د مخالف ذليلولو او تسليميدو... په مفهوم خلاصه کوي.

سیاسي مصالحه او سیاسي مفاهمه د خپلو اهداف او مقاصدو نه تيريدل اوخيانت نه دی، مخالف او يا اپوزيسيون ته تسليمدل نه دي، د مخالف د نسخو حتمی منل نه دي او ...

سیاسي مصالحه د خپلو اهدافو نسخو د مشروعيت د لاسه راوړلو په لار کي متمدنه او مشروع هلي ځلي دي او سیاسي توافق دی چي په نتيجه او پاله کي د ددي نسخو د تطبيق او مشروعيت دملت نه ترلاسه کړای شي.
سیاسي مصالحه په سیاسي ژوند کي يو سلسله مشروع مقدماتي توافقات او ميکانيزم باندي توافق دی، کوم چي د خلکو او ملت د حاکمیت او ارادې د اظهار او عملي کولو موجب شي.
په دې اساس د ښاغلي ابراهيمی تصور او دا خيال چي طالبان بايد راغوښتل شوای وای او په حاکمیت کي ورته دوی ځای ورکړای وای، يوه غير عملی طرحه وه او ده. دا دطالب او حاکمیت لپاره دشرم خبر وه او ده چي دخپلو نسخو دتطبيق مشروعيت د مقابل نه ترلاسه کړي. د طالبان او دغه او هغه سیاسی حرکت خپل سیاسی برنامی او نسخي لري او دهغوی دتحقق لپاره کار کوي او زه يې تصور نه شم کولای چي د طالب دحرکت مثلا د جزاء قانون دي په اوسني نظام کي او د قانون په اوسنی پوهي مطابقت لرلای اويا سره جوړ راغلای وای. دا کار به يا معذورانه اويا هم هدفمند فريب دی، چي په دواړو حالتو کي دمنلو وړ نه دی.
له بلي خوا د ښاغلي حامد کرزي د حاکمیت مسلح او غير مسلح مخالفين په افغانستان کي د طالب په حرکت خلاصه کول او دوی اصلي مانع ګڼل، يوه بله هغه تيروتـنه ده چي بايد اصلاح او دقيقه شي.
د محترم حامدکرزي د حاکمیت مسلح مخالفين، د حقاني ګروپ، پاکستاني طالبان، پاکستانی نوری جهادي ډلي، پاکستاني استخباراتی ډلي چي د هند، افغانستان، او بهرنيو په مقابل کي د مختلفو اهدافو لپاره جنګيدلي او جنګيږي، حزب اسلامی، د افغانی طالبان مختلفی ډلي، داخلي موجه او غير موجه ناراضيان او دنورو امتيازاتو غوښتونکي او داسي نوري ايراني ډلي چي دتقيه دسياسيت پر بنسټ د ښاغلي حامد کرزي د حاکمیت سره معامله او برخورد کوي.
د ښاغلي حامد کرزي او ددې حاکمیت د پاتي راتلنو عمده عوامل ددې حاکمیت په بي کفايتی، د قانونی معافيت شته والي، غلط غير شفاف، مافيايی روابطو حاکمیت، د لس کلنی تجربی سره د ظرفيتونو نشته والي، هغو ظرفيتونه چي اقلا و نتوانيدل ۳۰ په سلو کي انکشافی بوديجه په مصرف ورسوي، هغه ظرفيتونه چي قانون تطبيق کړي او د خلکو امنيت وساتي، د آزاد بازار وحشي اقتصادي سياسيت عملي کيدو ادامه، په بعضي اقتصادي برخو کي مافيايی انحصارروابط وجود لرل، دولتي مسلکي پُستونه د آغا بلي او استخباراتي کړيو او عناصرو او جيبي شراکتو په بنسټ


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

ویشل دا او داسې نور عوامل. د خلکو (دافغانستان او نړیوالې ټولنې) دوکه او فریب په ډېر عرصو او په هرقدم کې لیدل کیږي او عملي کیږي. داهغه داخلي عوامل دي چې د بهرنیو کړیو په مرسته په افغانستان کې د پاتې راتلو، بُن بست، ناکامی او د لمړي بن دکنفرانس دتصامیم او پریکړو په اساس ورسره مخامخ یو او پاتې راتلنو اصلی عوامل دي.
راشو بهرنیو عواملو ته چې په سر کې یې د پاکستان اصلي پالیسي جوړونکي قرار لري. ښاغلي ابراهیمي د تأکید په هکله چې: « پاکستان یو خورا مهم لوبغاړی دی. په دې کې هـــیڅ شک نشته چې هغوی باید په دې بهیر کې راښکـــېل وي، .... البته چې د پاکستان سره خبرې ضروري دي، خو تر ټولو لومړی باید د طالبانو سره خبرې وشي. » باید ووایم چې:
زما په پوهه او آند پاکستان په دې هکله په دریو برخو ویشلای شو. ۱/ ملت او رنځیدلی ملت چې قرباني ورکوي او دخپل حاکمیت دسیاسیتو قربانی دی. ۲/ ملکي ناتوانه او د نظامی استخباراتو ترلاس لاندې حکومت.۳/ نظامي او اصلي پالیسي سازان او دپاکستان اصلي حاکمان. په یقین ویلاو شو چې دپاکستان اصلي پالیسي جوړونکی نظامی حلقی به په افغانستان کې داسې سوله و نه مني چې ددوی منافع او ګټې په کې خوندي نه وي. هغه نظامی حلقی چې ملکي حاکمیتونه یې په پاکستان کې همیشه تر تأثیر لاندی وی. ددې نظامیانو ګټې د افغانستان او سیمې د خلکو په وینو تویدو او ددې تراژیدې په ادامه کې خوندي پاتې کیدای شي. پکار ده چې ددوې سره مسایل یو طرفه او ددوی لاس دحاکمیت نه هماغسی چې په ترکیه کې د ښاغلي رجب طیب اردغوان له خوا ځومیاشتې پخوا واخیستل شو، پاکستان کې هم دا کار وشي. هغه کار چې په اغلب ګمان د پاکستان سفیر په امریکې کې پرې تأکید کوه او څو میاشتې مخکې برطرف کړای شو. که نه نو دا دافغانستان، د سیمې او سولې خطر او تراژیدی ته به د پای ټکی وجود و نه لري. دنیا او د افغانستان مظلوم ملت به قربانی ورکوي او نړیوال به ورسره یو ځای په منجلاب کې راګیر وي.

هو ایراني اخوندي مراجع، هندي مراجع، عربستان سعودي، روسیه او دهغه اقمار هیوادونه، چین او داسې نور هیوادونه په افغانستان کې خپل اهداف او اشخاص لري چې د توان ترحده د خپلو منافع او مصالحو لپاره کار کوي. هو دا هیوادونه په افغانستان کې د معین جهادي ګروپونو د په قدرت رسیدو د مانع په توګه په افغانستان کې د امریکې او نړیوالې ټولنې د اهدافو او هلو ځلو سره همغږي کوي، خوپه عین حال کې د امریکې ستړي کیدل هم غواړي او د امریکې د بعضی نورو ستراتیژیکي اهدافو سره په افغانستان کې سخت مخالفت کوي. حتي دامریکې نږدی متحد او همکار انګلیس هم په سیمه کې منافع لري چې په بعضي موارد کې د امریکې د منافع او مصالحو سره په تضاد کې دي. (اوږد بحث).
راشو بیرته د ښاغلي ابراهیمي مرکې ته:
په ښکاره ډول معلومیږي او بیانیږي چې په افغانستان کې دواګې او چارو امور د بهرنیو په زور د هیواد یوې سیاسي ډلې ته ورکړل شوې او یو څه نور بې کفایته او غیر مشروع عناصر دافغانستان د خلکو او نړیوالو بار شول چې ښاغلی ابراهیمي هم داخبره تأییدوي:« هو، کاملاً. هېـره نه کړو چې امریکایانو خپلې بمبارۍ په اکتوبر کې د بُــن تر کنفرانس ډېر له مخه پیل کړې وې او همدوی ول چې شمالي ټلوالې ته یې وسلې ورکړې، تمویل یې کړل او تر شا یې ودرېدل. او شمالي ټلواله په عمل کې د امریکایي بمباریو تر چتر لاندې راورسېده او چې څو د بُن غونډه پیلېده، دوی لا وختي د چارو واګې تر ګوتو کړې وې »
ښاغلی ابراهیمی اونړیوال دې په دې پوه شي او پوه وي چې داسې نسخو او بیعدالتیو په عملي کولو نتایج له هماغه سره معلوم وه او دي. دا درسته خبر نه ده لکه څنګه چې ښاغلی ابراهیمي وایې چې د « ...د حقایقو تر لیدو وروسته د بدیل په اړه خبرې کول اسان دي.... »
ښاغلی ابراهیمی بیا هم تیر وځي او په افغانستان کې د سولې او ترقي لار ته د برابریدو نسخې د شمال ټلوالی او طالبانو د حرکت به تفاهم په راوستو کې ګوري.
زه په دې باور یم داچې شمال ټلواله او یا هغه او دغه سیاسي ګوند او حرکت د طالبانو اویا طالبان د کوم بلی نسخې او سیاسي ګوند اهداف او نسخې نه مني دا کومه بده خبر نده، بلکې یوه نورماله خبر هم ده. که چیرې داسې وای نو بیا به طالب نه وای او یا به شمال ټلوالی نه وای. په ټولنه کې او د ټولنې دمسایلو د حل لپاره سیاسي نسخه لرل او ددې نسخو تفاوت نورماله خبر ده او په هره ټولنه کې ممکنه ده او شته. مشکل د مخالفی او یا د ځان د بلې نسخې رسمي تعریف دې او په غیر مشروع توګه دهغه پېزول د دولت او وسلو په زور. ددې نه داسې افاده نه شي چې ګواکې زه د طالبان د حاکمیت دوه په نوییموکلو کې په مشروع ډول حاکمیت ته رسیدلي بولم. بلکې دداسې مشروعیت دترلاسه کولو باندې او دهغه په نتیجه کې د مشروع او دمشروعیت پربنا د قادرو حاکمیتونو او په دې سلسله کې د نړیوالې ټولنې په مشروع او په ځای تعریف شوي مرستې باندې تأکید کوم، کوم چې د ښاغلي ابراهیمی په افادو کې له سره نه بریښي اولیا تر اوسه پرې نه دې پوه شوای.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په دې اساسی په افغانستان او سیمه کې ټیکاو او سوله د طالب او شمال ټلوالې به جوړجاړی او ګواکې د غنیمت په تقیسم پوری اړه نه لرې، او نه لرله، بلکی ملت ته په واګې سپارلو او دملت د حاکمیت په لارو دتوافق پر اصول کیدلای شو او کیدای شي. کوم چې دادې د لسو کلو په تیریدو صورت و نه مومه.

نړیوالې ټولنې ته په کار دې داسې زمینې برابرې کړې چې دهغو په مرسته د خلکو حاکمیت تأمین شي. تردې دمه د نړیوالې ټولنې له مرستو نه یو عده مخصوصو، چالاکو، بې کفایته او نوکر صفته عناصرو ګټه پورته کړی او دا لړی لا ترلاسه ادامه لرې. د افغانستان خلک دنړیوالې ټولنې نه دسالمې مرستې غوښتنه لرې.

## د عدالت او تیرو جنایاتو او جنایت کارانو په هکله:

اوسنی حاکمیت کې هغه چا لار وموندە چې په استخبارتې کړیو کې راغلل او یا د استادی نقل یې حاکمیت ته کیښودل اویا هم دجنایت کارانو سره یوه شول. هغه متخصص او کار پوه انسانان چې ددې حاکمیت سره یو ځای شول یا مجبور دې د فاسد څرخ سره وڅرخیږي، یا یې دلاسه څه پوره نه دي اویا هم افراز شول. تیر مستعد افراد او کادرونه که پورتنیو کړیو او حلقو کې نه وه په مختلفو ټاپو ټاپه شول او چون ددوی په حلقو کې رانغلل نو جنایت کار هم شول او ورته وویل شول چې محاکمه به دی کړو که لاس وانخلئ. له دې کبله د جنایت کار او عدم جنایت کار چې یو انفرادي مسؤولیت دې، معلومول یو مفید کار وه. اما دا کار ونه شو او حاکمیت په خپل نزد د هرغیر مطلب شخص باندې په همدې نامه هم وډاروه. دا تهدید همدا اوس هم وجود لرې او هر هغه څوک چې دحاکمیت په زړه نه وي په همدې نامه تهدیدوی او له صحنې باسې.

نو په افغانستان کې سوله د پورتنیو او داسې نورو مطالبو او عوامل له نظرکې نیولو نه پرته ممکنه نه ده. په دې هکله د ښاغلی ابراهیمی خبرې چې « زه خورا ناخوښه او خواشینی یم. زه کلک په دې باور یم چې په نړۍ کې داسې ستونزه نشته چې غوڅه دې نه شي. خو خبره دا ده چې څومره سیاسي اراده شته؟ هره خوا څومره زیار باسي چې د حل یوه لاره وموندل شي. زه دغسې یوه سیاسي اراده په هر ځای کې نه وینم.» د قوي خبره نه ده اودګناهونو جبیره نه شي کیدای.

مونږ ته په کار ده چې اصلي او اساسي حل ته پام وکړو. ما هڅه وکړه د ښاغلي ابراهیمي د وروستي اپتمیزیم او نیک نظرې وستایم خو په کلکه ویلای شم چې په داسې نسخو چې دی پرې لیا هم ټینګار کوي ددې منجلاب نه دوتلو لار نه وینم.

په داسي شرایطو، دداسي نسخو په عملي کولو، هدفمندو او معذورانه تیروتنو، دوکو او سیاسي غیر صادقانه لوبو د وضع غیرواقعي تصویر وړاندې کونه، د ښاغلي ح کرزي صیب د رواني میاشتي د اتمي نیتي ارزوني او پیش بیني ګاني په یقیني توګه درستي دي چي وایي: « امریکا و متحدانش در اجرای موفقیت آمیز عملیات امنیتی خود در کشور هنوز راه درازی در پیش دارند .....». هو نړیواله ټوله باید د ټل لپاره دداسي حاکمیت سره مرسته وکړي. د افغانستان مشکلات په «پایان دادن حمله های شبانه و جستجوي خانه های و....» خلاصه کول، هغه دوکي ګنم چي دحل داساسي لارو څخه د خلکو او نړۍ نظر اړول دي او بس. همدارنګه د افغانستان د مسایلو د حل لارې د جنرال استنلی مک کریستال، د امریکې د ستر نظامی قومندان سره او په نظامی برخه کې نه شته، لکه څنګه چې جناب کرزی صیب پرې تأکید کوي. په یقین سره د حل اساسي لارې په سیاسي حل کې لټول او په ښه حکومتدارۍ او ملت ته په واک ورکولو کیدای شي.

په دې برخو کې دقت او حقایق منل او داسې نسخې عملي کول چې ښې سولې، عادلانه سولې ، د انسان والا مقام او د افغانستان منافع او مصالحو ته د پورتنیو منافعو د ساتلو سره اولویت ورکړل شي، جدي پام په کار دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ